# په خلکو کې د کفر دوه خويونه دي چې يو يې د خلکو د نسب پسې سپکې سپورې ويل او بل يې په مړو فرياد کول دي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «په خلکو کې د کفر دوه خويونه دي چې يو يې د خلکو د نسب پسې سپکې سپورې ويل او بل يې په مړو فرياد کول دي.»
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم په خلکو کې له دوو کفري او د جاهليت له خويونو څخه خبر ورکوي چې هغه دوه کارونه دادي: لومړی: د خلکو په نسبونو کې خبرې کول، نېمګړتياوې يې بيانول او ځان پرې پورته ګڼل. دويم: د مصيبت پر مهال پر تقدير د ناخوښ له امله په لوړ غږ چيغې وهل او يا د ډېر فرياد له امله د جامو څيرې کول.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6361

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee